# د عزیزالله ماما ځلوبښتمه

**عزت الله عابد پښین**

تېره ورځ د جنوري په ۱۷مه د اتوار په ورځ ماسپښین درې بجې د کوټې پرېس کلب په تالار کښې د عوامي نېشنل ګوند د ایالت له خوا د ګوند د مرکزي مشر قانون دان اروابښاد عزیزالله ماما اېډوکېټ د ځلوبښتمې په موقعه یوه درنه غونډه د نواب ارباب عبدالظاهر کاسي په صدارت کښې وشوه چې مشر مېلمه پکښې ډاکټر عنایت الله ؤ او د کوربه فرائض شاه عالم کاکړ پوره کړۀ. په دې درنه غونډه کښې د عوامي نېشنل ګوند مرکزي مشر ډاکټر عنایت الله خان، د ګوند ایالتي ټاکل شوے کنونیر نواب ارباب عبدالظاهر خان کاسي، حاجي نظام الدین کاکړ، صاحب جان کاکړ، عبدالمالک پانیزي، د بلوچستان بارکونسل ایالتي مرستیال ملک امین الله خان اېډوکېټ، د پښتون سټوډنټس فېډرېشن ایالتي مشر منظور کاکړ، پوهاند ولي محمد سیال کاکړ، د اروابښاد عزیزالله ماما ورارۀ سیاسي او قبائلي مشر ډاکټر عبدالله خان کاکړ، حاجي ستار کاکړ د عزیزالله ماما اېډوکېټ په شخصیت سیاسي مبارزه او په پښتون قامي تحریک کښې د دۀ په سیاسي بصیرت او په وطني او ملي خدماتو باندې مفصلې بیلابیلې ځرګندونې او په زړۀ پورې خبرې وکړې.

غونډه ماسپښین درې بجې په رسمي ډول د قرآن مجید د سپېڅلو ایاتونو سره پیل شوه. په غونډه کښې د ګوند یو شمېر مشران محمد انور مندوخېل، حاجي اصغرعلي ترین، عبېدالله عابد، حضرت افغان، حاجي سلام کاکړ، بازمحمد، محمد حسین آغا، ارباب غلام کاسي، سردرا رشید ناصر، ډاکټر طاهر کاکړ، ملک امان الله کاسي او نورو مشرانو ګډون کړے ؤ.

غونډې ته دګوند ایالتي کنونیر نواب ارباب عبدالظاهر کاسي د ټولو نه اول د اروابښاد عزیزالله ماما اېډوکېټ ته د دۀ په ملي او سیاسي خدماتو زبردست خراج عقیدت وړاندې کړو. دۀ ووئیل تاسو وکتل چې باچا خان او ولي خان اقتدار ولې نۀ غوښتو؟ د هغوي مقصد اقتدار نۀ ؤ، د هغوي مقصد د خپل قام ملي جذبه او خدمت ؤ. مشرانو به وئیل چې زمونږ ملګرتیا د هر چا سره په اصولو باندې ده. د پښتنو د حقوقو اخستلو یا د خپل قامي تشخص د ایښودولو دپاره زمونږ دا مطالبه ده چې مونږ ته دې خپل ملي تشخص پښتونخوا یا پښتونستان راکړې او پښتنو ته دې په خپل جائز حق او په خپلو وسائلو کنټرول ورکړې.

د عوامي نېشنل ګوند درونـد مېلمه ډاکټر عنایت الله خان ووې عزیزالله ماما په خپله خان ؤ او د لوئے ټبر سره ئې تعلق لرۀ. د دۀ په خټه کښې، د دۀ په سوچ کښې د قام د خدمت جذبه وه، د تدریس نه راواخله تر سرکاري نوکرۍ، وکالت، ادب او

سياسي مبارزې پورې د دهٔ ټول ژوند د قامي خدمت د وياړه ډک ؤ او مونږ ډېر وياړ او فخر پرې کوو.

عزيزالله ماما په ځواني کښې د قانون او سياست د لارې د قام د ښېګړې د پاره خپله هلې ځلې کولې. د دهٔ نظر او فکر د قام او د خپل اولس خدمت ؤ، قامي حقوق وو او صوبائي خودمختاري وه. په پاکستان کښې د وررولۍ په بنياد ئې سوچ او فکر مترقي ؤ. رواياتي سوچ ئې نهٔ لرلو، تر اخري سلګو پورې په خپل مرام، هدف او په سياست ټينګ ولاړ ؤ.

عزيزالله ماما په خپل ټول ژوند کښې د ذاتي ګټو په ځائے اجتماعي ګټو ته پام ګرځولے ؤ. اجتماعي عمل هغه کار دے چې د هر چا د وس خبره نهٔ ده

د اې اين پي مرکزي ډپټي سېکرټري عبدالمالک پانېزي د ارواښاد عزيزالله ماما په سياسي هلو ځلو د رڼا اچولو په وخت ووئيل چې عزيزالله ماما په خپل ټول ژوند کښې د ذاتي ګټو په ځائے اجتماعي ګټو ته پام ګرځولے ؤ. اجتماعي عمل هغه کار دے چې د هر چا د وس خبره نهٔ ده، په دې نن وخت کښې اجتماعي عمل ډېر زيات ضرورت لري. هر څوک چې د يووالي لمن ټينګه کړي بريالي هغه خلق دي.

سياسي او قبائلي مشر د عزيزالله ماما وراره ډاکټر عبدالله خان کاکړ خپله وېنا کښې ووئيل چې زهٔ د هر څهٔ نه مخکښې د ملي عوامي ګوند د مشرانو کارکنانو ډېر زيات ممنون يم چې په دې اړوند ئې کوم پروګرام ترتيب کړے دے او زهٔ د پښتنو لوستونکو ځوانانو تنظيم پښتون سټوډنټس فېډرېشن د ملګرو هم مننه کوم چې په دې پروګرام کښې شرکت لري. عزيزالله ماما نهٔ يواځې زمونږ د سيمې د قبائلي ټبر مشر ؤ بلکې د ټول پښتون وطن ښکاره مخور مشر ؤ. د هغهٔ سياسي مبارزه د چا نه پټه نهٔ ده.

د بلوچستان بار جنرل سېکرټري ملک امين الله کاکړ ووې عزيزماما د يو فرد نوم نهٔ بلکې د يو قام نوم دے، د يو ادب نوم دے. د ماما په حقله چې مطالعه وکړو د شعر و شاعرۍ څخه رانيولې تر ادبي، سياسي او عوامي اړخه پورې چې کومې هلې ځلې ئې کولې په دې منطقه کښې ماما په حقيقت کښې باچاهۍ څخه ملنګۍ ته راغلے ؤ.

صاحب جان کاکړ په خپله وېنا کښې د ماما په ادبي سياسي مبارزه مفصله رڼا واچوله. دوي د عوامي نېشنل ګوند ډېره ستائنه وکړه او بيا د محمد صادق ژړک ئې هم ډېره مننه وکړه چې په عزيزالله ماما ئې يو ورځنے سيمينار جوړ کړے ؤ. حاجي نظام الدين کاکړ ووئيل چې نن مونږ د ډېر ګران او پياوړي ملګري خلوېښتي نمانځو يقيناً مونږ نن ټول خفه يو.

عزيزالله ماما د پښتني سياست او د پښتو ادب يو ځلانده ستورے ؤ. خپل ټول ژوند ئې په مړانه، غېرت، عزت او ننګ و ناموس تېر کړے ؤ.

د غونډې په پائې کښې عبدالستار کاکړ او د پښتون سټوډنټس فېډرېشن ايالتي مشر منظور کاکړ هم د عزيزالله ماما په سياسي ادبي خدماتو رڼا واچوله. په پائې کښې په ارواښاد عزيزالله ماما پسې اجتماعي دعا وشوه.■